د تړون ورکولو د پرېکړې خبرتیا

د تدارکاتو قانون د دري څلوېښتمې مادې له دویمې فقرې سره سم، ټولو ته خبر ورکول کېږي  چې د افغانستان بانک په پام کې لري، د افغانستان بانک د مرکزي زون د ښاري نمایندگیو بیا رغونه، جوړونه او رنګمالۍ پروژې د(DAB/1404/NCB/W08)  تشخیصیه شمېرې لرونکي تړون پر بنسټ د الهام سبحان ودانیز او انجینرۍ شرکت ته ورکړي چې دا شرکت د (91623) شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یې د خیرخانه دویمه برخه ګولایی جمهوریت، د کابل په مرکز کې دی. د تړون ټولیزه بیه (750,000) اوه سوه پنځوس زره افغانۍ ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په یادولو سره د اعلان د خپرېدو له نېټې تر اوو رسمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د لاسلیکولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړېدو به تړون نه ترسره کېږي.